337

له انګليسي څخه ژباړه

د آسيا شميره ۰۰۰ | جنوری ۲۰۲۴

International Crisis Group

www.crisisgroup.org

INTERNATIONAL CRISIS GROUP

اساسي موندنې اجرائی لنډیز

# د طالبانو ګاونډيتوب: له افغانستان سره سيمه ييزه ډيپلوماسی

**څه نوي دي؟** طالبان چې تر ډېره د لوېديځو ځواکونو لـه خوا ګوښـه شـوي، پـه دې لټـه کـې دي چـې له نـږدې پلازمينـو سره اړيکې ټينګـې کړي. دا هيوادونـه لـه تعامـل څخـه مطلق انـکار نشي کـولای: دوی بايد لـه طالبانو سره د امنيتـي او اقتصـادي مسئلو په اړه تعامـل وکړي. د بې باوريـو او خنډونو له املـه سـيمه ييـزه ښـکيلتيا محـدوده پاتـې ده، کومه چـې د لويديځـو بنديزونو پـه نتيجه کـې رامينځته شـوې

**دا ولې اړيـن دی؟** د افغانسـتان او د هغـه د ګاونډيانـو ترينګلـې اړيکـې د جنوبي او مرکـزي اسيا د خلکـو ژونـد او روزګار اغيزمنـوي. کابـل او سيمه ييز شريـکان يـې بايـد د سـوداګرۍ د پراخولـو، د اوبـو او نـورو ګډو منابعـو پر سر د شـخړو د مديريـت او د بيـن الحـدودي اورپکـو ډلـو سره د مبـارزې په موخه لارې چـارې ولټـوي. ناکامـي کولـی شي چې په سـيمه کې پراخه بـې ثباتي راولي.

**بايـد څـه وشي؟** سرزوري طالبانـو سره پـه راکـړه ورکـړه کـې ننګونـو نـه د تېښـتې پـر ځـای، سـيمه ييز پلازمينـې بايد د پـراخ بنسـټه امنيتي همـکارۍ او اقتصـادي ادغـام لپـاره د يـو روښـانه ميکانيـزم لټولـو تـه دوام ورکـړي. لويديځ هيوادونـه بايـد د دې ډول هڅـو ملاتـړ وکـړي - يـا لـږ تـر لـږه يـې د مخنيـوي څخـه ډډه وکـړي

---

پـه داسې حـال کـې چـې د نـړۍ زياتـرو هېوادونـو د طالبانـو لخـو د ښـځو او انجونـو د حقوقـو د نقـض لـه کبلـه لـه هغـوی څخـه ډډه وکـړه، د افغانسـتان شـاوخوا هيوادونـو د سـيمې د امنيـت او اقتصـادي ثبـات پـه موخه د نـوي نظـام سره خپلـو راکـړو ورکـړو تـه ادامـه ورکـوې. دا سيمه، لکـه څنګه چـې يـې طالبـان تعريفـوي، د «يوروشـيا براعظمونـو» کـوم چـې پـه ختيـځ کـې لـه چيـن څخـه نيولـې د لوديـځ تـر ترکيـې پـورې، او پـه شمال کـې لـه روسـيې څخـه نيولـې حتـی د سـويل تـر هنـد او د خليـج سـلطنتونو پـورې او د ايـران او پاکسـتان پـه شـمول منځنـي اسيا هيوادونـو پـورې غځېدلـی. طالبـان د پخوانيـو افغـان واکمنانـو پـه څېـر افغانسـتان تـه د يـوه پـل پـه سترګـه ګـوري چـې دا ټولـې سـيمې سره نښـلوي. د طالبانـو پـه وړانـدې د سيمې د هېوادونـو پـه دريځونـو کـې ډېـر تـوپير دی، کـه څـه هـم دوی ټـول پـه دې بـاور دي چـې لـه رژيـم سره اړيکـي اړيـن دي، خـو بيـا هـم تـر اوسـه د دوی تعامـل محـدود دی. کابـل او سيمه ييـز شريـکان يـې هڅـه کـوي چـې يـوه داسـې کـړنلاره رامينـځ تـه کـړي چـې د دوی متقابـل اولويتونـه، لکـه د سـوداګرۍ وده، د اوبـو د شـخړو هـوارول، او پـه سرحـدي سـيمو کـې د اورپکـو مخنيـوی، اداره کـړي. دا يـوه سـتونزمنه، خـو د ارزښـت وړ هڅـه ده، او لويديـځ يـې بايـد مخنيـوی ونکـړي

د ۲۰۲۱ کال پـه اګسـت کـې واک تـه راسـتنېدو وروسـته د طالبانـو لـه خـوا د افغـان ميرمنـو او انجونـو لـه اسـاسي حقونـو څخـه انـکار او د سـختو ټولنيـزو قوانينـو پلي کولـو، د ملګـري ملتونـو او نـورو نړيوالـو بنسـټونو لـه خـوا د دوی د حکومـت پـه رسـميت پېژندلـو امـکان لـه مينځـه وړی دی. سره لـه دې چـې لويديځوالـو ډيپلوماتانـو لـه طالبانـو سره راکـړه ورکـړه لغـوه کـړې، خـو سيمه ييـز لوبغـاړي لـه کابـل سره د لا زيـات ښـکيلتيا پـه لټـه کـې دي. ځينـو لـه ښـځو او انجونـو سره د طالبانـو چلنـد، پـه ځانګـړې توګـه د انجونـو پـر منځنيـو او لـوړو زده کـړو بنديزونـه غنـدلي دي، خـو د دې باوجـود اکثره سـيمه ييـزو چارواکـو د ښـځو او انجونـو حقـوق د خپـل دريځونـو محـوري نقطـه نـده ګرځولـې. سـيمه ييـز چارواکـي پـه دې بـاور دي چـې د خپلـو هېوادونـو د ګټـو خونديتـوب او د طالبانـو پـه چلنـد کـې پـه اوږدمهالـې کـې د نرمښـت راوسـتلو تـر ټولـو غـوره لار، د دوی د ګوښـه کولـو پـر ځـای، لـه کابـل سره د زغمـه ډک تعامـل تـګلاره ده. د کابـل او سـيمه ييـزو پلازمينـو ترمينـځ ارتباطـات يـا تعامـل ښـايي چـې راتلونکـي کلونـه بـه د طالبانـو د ډيپلوماتيکـو اړيکـو لپـاره غـوره هيلـې وړانـدې کـړي

لا تراوسـه هـم، سـيمه ييـزه همـکاري د افغانسـتان دځينـو ګاونډيو د غوښـتنو پـه پرتلـه کمـه ده. ځينـو د يـوې «سترې معاملـې» تمـه درلـوده چـې د ډيپلوماتيـک رسـميت پـه بـدل کـې بـه طالبـان د يـو ټـول شـموله حکومـت د جوړولـو لپـاره ګامونـه پورتـه کـړي، او پـه ځانګـړي توګـه بـه هغـه افغـان

PREVENTING WAR. SHAPING PEACE.

سیاستوال واک ته راولي کومو چې په تېره کې د طالبانو مخالفت کولو او له سیمه ییزو هیودونو سره یې ښې اړیکې لرلې. خو طالبانو په کابینه کې د خپلو پخوانیو دښمنانو د ورګډولو ټولې هڅې رد کړې. له همدې امله، ډیرو سیمه ییزو لوبغاړو د کابل سره د هر اړخیز تعامل پر ځای جزئي تعامل غوره کړ تر څو پر ځانګړو موضوعاتو کې د ضرورت پر اساس همکاري وکړي. دغه معاملاتي اړیکو تګلاره د طرحې پر ځای د اړتیا پر بنسټ ولاړه ده، او دا د طالبانو هغه غوره شوي دریځ سره سمون خوري، چې د افغانستان په چارو کې د بهرني لاسوهنې له شالید څخه ډډه کوي. د طالبانو هڅې چې په نړیوال سیاسي نظام کې، د دوی په وینا، د لویدیځ لخوا د تحمیل شوي نړیوالو ارزښتونو پر ځای دې بیلا بیلو کلتوري ارزښتونو ته درناوی وشي، د سیمه ییزو ځواکونو له ګټو سره سمون خوري

په سیمه ییزه اجنډا کې تر ټولو مهمه موضوع سیمه ییز امنیت دی. سیمه ییز چارواکي د اسلامپالو اورپکو د مخنیوي لپاره د کابل غیرعادي چلند ته د شک او اندېښنې په سترګو ګوري. د طالبانو د واک ته راستنېدو څخه وروسته، د افغانستان ګاونډیانو ویره درلوده چې ګواکې تاوتریخوالی به د افغانستان له پولو څخه د هند د ولکې لاندې کشمیر او یا په مرکزي آسیا کې د فرغانه دره په څیر حساس ځایونو ته وغځیږي. د طالبانو په هیواد کې د ولکې ټینګېدو سره دا اندیښنې مبالغې ثابتې شوې، او تاوتریخوالی دا ځایونو ته خپور نشو. پرته له پاکستان نه، چېرې چې د طالبانو د واک په لومړنیو دوه کلونو کې د تحریک طالبان پاکستان (ټي ټي پي) بریدونه زیاتوالی ومومی او د دې لامل وګرځېدی چې د اسلام آباد او کابل اړیکې ډېرې ترینګلې شوې. سیمه ییزو اندیښنو په ځواب کې طالبان تقریباً د ټولو اورپکو په اړه یوه شبیهه نسخه کاروي: کابل د شکمنو اورپکو له وژلو یا نیولو څخه ډډه کوي او پرځای یې د اوسېدو ځایونه ور بدلوي، او د نوي ژوند په جوړولو کې ورسره مرسته کوي، په دې هیله چې د دوی د سیاسي موخو مسیر وکرځوي او د قومنده ورکولو جوړښت یې ورته له مینځه یوسي.

د سیمه ییزې امنیتي همکاري لپاره پکار ده چې هر اړخ دې لومړی په خپلو ویناو کې نرمښت راولي او جهتونه دې ځینو حقایقو ته غاړه کیږدي باوجود د دې چې د دوی لومړیتونو بیلا بیل دي. د دولت اسلامي خراسان څانګه (داعش – خراسان) ، چې یوه خطرناکه جهادي ډله ده، د طالب ځواکونه لخوا ښه مهارول شوي خو هلته هم طالبانو خپلو سیمه ییز شریکانو سره دومره باوري فضا نده رامینځ ته کړې چې ګواکې دوی یو بل سره سره په آزاده توګه معلومات شریک کړي. یوه برخه ستونځه د اسلامپاله وسلوالو ډلو سره د چلند پر سر ده، چې کابل یو رنګ چلند غوره کوي او سیمه له کابل څخه بل ډول چلند غواړي. د دې اختلاف له مینځه وړلو لپاره یو ګډ پلیټ فارم یا میکانېزم ته اړتیا ده چې سیمه ییزو اندېښنو په اړه بحث پکې وشي او د ننګونو

د مخنیوي لپاره یو ګډه تګلاره جوړه شي. ټول اړخونه به د پولو له ټاکنو، ښه مدیریت، او ګمرکي ادغام څخه ګټه پورته کړي

د سیمه ییزو همکاریو بله مهمه برخه اقتصاد ده. په افغانستان کې اوږمهالې جګړې هغه مفکوره ووژله چې غوښتل یې د ورېښمو پخوانیو لارو په مقابل کې سوداګریز دهلیزونه جوړ شي، خو کله چې د طالبانو نظامي بریا قوي ثبات راوست او د فساد پر ضد یې مبارزه پیل کړه، نو دا مفکوره بیرته را ژوندۍ شوه. سیمه ییزې پلازمینې اوس د سوداګریزو فرصتونو یو روښانه څرکویني. دوی هڅه کوي چې لارۍ، ریل ګاډي، ګاز او بریښنا له پولو څخه را تېرې کړي. طالبان ډېر لیواله دي چې په داسې پروژو کار پیل کړي، خو په لنډه موده کې به د ځینو خنډونو له مینځه وړل ناشونی وي. د ښه سیمه ییز اقتصادي پیوستون لپاره دلایل خورا ډیر دي، په ځانګړې توګه د انرژۍ په برخه کې، ولې چې د منځنۍ آسیا هیوادونه د نوي بازارونو په لټه کې دي، او په عین حال کې سویلي آسیا د تیلو، ګازو او بریښنا نوي منابعو ته اړتیا لري. د اوږدمهاله پلان د مخه سیمه د اقتصادي ادغام لپاره په افغانستان کې د پانګونې هڅولو لپاره ستراتیژیک دلایل لري، چې په پایله کې به د سیمې له ثبات سره مرسته وکړي. ځینې سیمه ییز لوبغاړي فکر کوي چې په سیمه ییز اقتصادي جوړښت کې د افغانستان ادغام به پر افغانستان د سیمه ییزو لوبغاړو نفوذ زیات کړي. همداراز دا کار به د طالبانو په لیکو کې د ډیپلوماسۍ مخالفین پخلا کړي، او د بالفعل حکومت چلند به تر یو حده قابل د وړاندوینې کړي. بل پلوه، ډېری طالبان دا اقتصادي ادغام د افغانستان د سوکالۍ لپاره یو اړین ګام بولي، کوم چې به د دوی نظام ته هم د یو اوږدمهال بقا زمینه مساعده کړي

لا تر اوسه هم یو شمیر علتونه د کابل او سیمې تر مینځ د اقتصادي همکارۍ مخه نیسي. نړیوال اقتصادي محدودیتونه او بندیزونه د خصوصي پانګونو مخه نیسي. د ځینو مرستندویه هیوادونو غوښتنه چې کومکونه د بشري مرستو تر حده محدودې وساتي، هم د اقتصادي همکاریو مخه نیسي. د ځینو سیمه ییزو هېوادونو محدودې سرچینې، سره د بهرنیو کومکونو د جلبولو څخه عجز، د افغانستان او د سیمې ترمینځ د اقتصادي همکاریو خنډ ګرځي. همدومره مهم، په افغانستان کې د قانوني چوکاټ نشتونوالی د خصوصي سکټور باور کمزوری کړی، په ځانګړې توګه کله چې طالبان په یوه غیر شفافه توګه د تېر نظام قوانینو ته د بیا کتنې لړۍ پیل کړه

په افغانستان کې د طالبانو ځینې کړنې لکه د اوبو د زیربناوې جوړول، پرته له دې چې کښته پراته اغیزمند هیوادونه لکه ایران او ازبکستان سره همغږۍ وکړي، د یو کړکیچ لامل کرځېدلي. ځینې وخت د طالبانو او د ګاونډ هیوادونو دعوې، د دوی د ځواکونو ترمینځ د نښتو لپاره

PREVENTING WAR. SHAPING PEACE.

پیلامه هم کرځېدلي. داسې تب جنې فضا له کبله ښایي چې سیمه ییز هیوادونه له طالبانو سره د ښکیلتیا لپاره خپلې هیلې کمې کړي. داسې کولو سره به د دې ډول ستونزو هوارول لا هم جنجالي شي او ګاونډیان چې کومو ننګونو سره مخ دي، د هغو حلول به نور هم مشکل کړي

د سیمه ییزې همکارۍ په لور ګامونو کې اکثره لویدیځوال مرستندویان نه دي شامل، که څه هم د دې هڅو پایلې دوی پورې هم اړه لري. په ځانګړې توګه اروپایان به د یوې داسې سیمې څخه ګټه پورته کړي چې باثباته او خودکفا وي او د غیرقانوني مخدره توکو، مهاجرینو یا تروریزم لویه سرچینه نه وي. د کابل او سیمه ییزو پلازمینو ترمنځ داغیزمن اړیکو په لار کې خنډ هغه اقدامونه او بندیزونه دي چې د لویدیځ لخوا تحمیل شوي او موخه یې له طالبانو نه نارضایي ښودل دي. که دا د اوبو د پروژېو په هکله په نړیوال بانک منفي ووټ یا رایه وي یا د بندیزونو سره سره د طالبانو پوله ساتونکو ته د تجهیزاتو لیږلو اجازه وي، دا رنګه اکثره پرمختګونه د لویدیځ په ملاتړ او یا عدم مخالفت پورې تړلې وي. که څه هم دا ډول عملي ګامونه باید په دې معنا نه وي چې د طالبانو رژیم دې په رسمیت وپېژندل شي، دا ګامونه به سیمه ییزې ثبات او د امنیت په برخه کې مرسته وکړي

**کابل/ برسلز، جنوري ۲۰۲۴**

PREVENTING WAR. SHAPING PEACE.